# د کابل مجلې الفبايي فهرست

(۱۳۸۰ - ۱۳۹۹ هـ.ش)




خېړنپوه نصرالله ناصر

د کابل مجلې الفبايي فهرست (۱۳۸۰ - ۱۳۹۹ هـ.ش)

خېړنپوه نصرالله ناصر

# The Alphabetical List of Kabul Magazine

(1380-1399 S.H)

Professor Nasrullah Naser

2022

ISBN 978-9936-645-68-4

د افغانستان اسلامي امارت

د علومو اکاډمي

د بشري علومو معاونیت

د ژبو او ادبیاتو مرکز

د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتوت

# د کابل مجلې الفبايي فهرست

## (۱۳۸۰ – ۱۳۹۹ هـ. ش)

لیکوال: څېړنپوه نصرالله ناصر

## د کتاب ځانګړنې

د اثر نوم: د کابل مجلې الفبايي فهرست (۱۳۸۰ - ۱۳۹۹ هـ.ش)
ليکوال: څېړنپوه نصرالله ناصر
ايډېټور او مهتمم: څېړندوی حضرت آغا همدرد
خپرندوی: د افغانستان د علومو اکاډمي، د اطلاعاتو او عامه اړيکو رياست
د چاپ کال: ۱۴۴۴هـ.ق = ۱۴۰۱ هـ.ش
مطبعه: لايف سټار، کابل - افغانستان
ISBN: 978 – 9936 – 645 – 68 – 4

د چاپ ټول حقوق له علومو اکاډمي سره خوندي دي.

بسم الله الرحمن الرحيم

## یادښت

((د کابل مجلې الفبايي فهرست (۱۳۸۰ - ۱۳۹۹هـ.ش)) اثر چې په ۱۴۰۰ لمریز کال کې يې د چاپ او خپراوي تمه کېدله، په هېواد کې د سیاسي تحولاتو او ځینو نورو ملاحظاتو له کبله ځنډېدلی و؛ د اسلامي امارت له راتګ سره دا دی تر بیا کتنې وروسته چاپ او خپرېږي.

# لیکلړ


| گڼه | سرلیک | مخگڼه |
| --- | --- | --- |
| ۱ | شل کلن علمي بهير | الف |
| ۲ | سريزه | ۱ |
| ۳ | د کابل مجلې شل کلن قلمي همکاران | ۱۲ |
| ۴ | د کابل مجلې د مقالو شل کلن الفبايي فهرست | ۲۹ |

# شل کلن علمي بهیر

کابل مجله یوه داسې علمي او څېړنیزه خپرونه ده چې د افغانستان د څېړنو او خپرونو په تاریخ کې نوم لري، دغې مجلې نه یوازې په سلګونو او زرګونو علمي، څېړنیزې، ادبي، تاریخي، ټولنیزې، کلتوري، فرهنګي، فولکلوري او آن فلسفي مقالې خپرې کړې، بلکې په لسګونو لیکوال او څېړونکي یې هم روزلې او ټولنې ته یې وړاندې کړې دي .

د خپرونو په تاریخ کې د دغې خپرونې د خپرونې وزرې او د شپول ساحه ډېر ځله یوازې د هېواد داخل کې نه ده پاتې شوې، بلکې تر پولو او سرحدونو هم اوښتې او آن د نړۍ د ګوټ ګوټ په معتبرو علمي او اکاډمیکو ارګانونو کې یې مینه وال او څېړونکي پاللي دي، چې ښه بېلګه یې د محمدظاهر شاه له واکمنۍ واخله د ډاکتر نجیب د واکمنۍ تر وروستیو کلونو پورې زمانه ده چې هم یې په داخل کې او هم یې په بهر کې مینه وال او ګډونوال لرل او په ورته وخت کې به د نړۍ له معتبرو علمي او څېړنیزو ارګانونو څخه ورته مقالې راتللې، خو د وخت تېرېدل، د سیاسي حالاتو بدلون او دې ته ورته نور عوامل د دې لامل شول چې د کابل مجلې په ګډون په لسګونو نورې خپرونې هم له چاپه پاتې او ولس یوازې د خېټې او د سر امن په غم کې شي، البته له هېواده بهر د مهاجرت په دوران کې هم ځینو علمي او فرهنګي ستېو د خپل ادب د غوړېدلو او پرمختیا لپاره خپرونې لرلې او په بېلابېلو خپرونو کې به یې مقالې راتللې، خو نه په کې هغه هېوادنۍ خوند و او نه هم مینه.

د هېواد د خپرونو دا لړۍ کابو درې لسیزې همداسې شلېدلې او تته پاتې شوه، خو بالاخره د ۱۳۸۰ لمریز کال په وروستیو کې یو ځل بیا دا روښنایي تته غوندې بله شوه او ورځ تر بلې یې ځلا او ښکلا زیاتېدله، خو لکه څنګه چې تمه کېده ډېر کلونه هغسې نه وه او هغه هم د ځو لاملونو له مخې:

یو دا چې د پخوانۍ پښتو ټولنې او اوسنۍ د علومو اکاډمي د ژبو او ادبیاتو مرکز هغه پخواني استادان ټول موجود نه وو او د ډېرو ځایونه نویو څېړو نیولي وو.

بل لامل یې دوامداره جګړه او ورانۍ وې چې دغه چار هم په رواني لحاظ او هم په ټولنیز لحاظ استادان اغېزمن کړي وو او لکه څنګه چې باید فکر شوی وای او یا یې څېړنې کړې وای، نه کېدې.

درېیمه خبره د ځوانو څېړونکو یو څه بې احتیاطي او له څېړنې سره سطحي چلند کول وو چې دغه چار هم د مجلې پر منځپانګې ژوره اغېزه کړې وه، خو تر ټولو مهم بحث په کې د مجلې یو ځل بیا فعالېدل او خپلو موخو ته ځان رسول وو، چې له ښه مرغه ورو ورو یې ځان ور نږدې کاوه. آن داسې وخت هم راغی چې مجلې د معیار پر لور دومره اوچت ګامونه پورته کړل چې په ټوله معنا یې منځپانګیزه ښه بدله شوه، د دوو، درېوو او څلورو میاشتو پر ځای په میاشت کې خپره شوه او داسې مقالې هم په کې خپرې شوې چې تر اوسه او که د الله رضا وي تر لسیزو پورې به د یو کره او دقیق مأخذ په توګه ترې ګټنه کېږي، چې له ښه مرغه د دغې شل کلنې د لوړ او ځوړ په مودې یا پړاو کې ما هم لږو ډېره ونډه په کې لرله او د څه وخت لپاره یې د مسؤلیت چارې را سپارل شوې وې.

ما د خپل مدیریت پر مهال د کتنپلاوي په مشوره یو کار دا وکړ چې د هر خپرنیز کال په پای کې مې د هماغه کال د مقالو الفبایي فهرست هم وړاندې کاوه، چې هم ترې لوستونکي خبر شي او هم د څېړونکو لپاره اسانتیاوې رامنځته شي او زه د دغه کار په ګټه هله پوه شوم چې کله مې د ماسترۍ تیزس د زېري جریدې لس کلن الفبایي فهرست ولیکه، دا ځکه یو مهال به داسې ویل کېدل، چې منابع پېژندنه یا د خپرونو د مطالبو د فهرست برابرول نه کوم علمي کار دی او نه هم ټولنیز او ګټور، خو کله چې د نړۍ معتبرو اکاډمیو، څېړنیزو ارګانونو او لیکوالو د خپلو خپرونو، چاپ شوو کتابونو او آن خپلو آثارو فهرستونه وړاندې کړل او څېړونکي

يې په ګټه پوه شول، نو بيا دا خبره په ټوله معنا اپوته شوه او څېړونکي په دې ګروهه شول چې منابع پېژندنه يا د فهرستونو چمتو کول، د څېړنيز کار کابو پنځوس سلنه ترسره کول دي، ځکه د څېړونکي لپاره تر ټولو ستونزمنه چاره د مأخذونو او منابعو موندل دي او کله چې منابع پيدا شي، نو بيا بويه چې نيم کار وشو، ځکه ليکوال له خورو ورو او نامعلومو چارو څخه را ټول او متمرکز کار ته متوجه شو .

زما دغه کار له ښه مرغه هم د اکاډمۍ د استادانو او هم د بهروني ځوانو ليکوالو او څېړونکو له هرکلي سره مخامخ شو، د کابل پوهنتون په ګډون د ګڼو پوهنتونونو استادانو او محصلينو هم خپلې پروژې او تيزسونه او هم د خپلې ارتقاء کنفرانسونه ډېر ځله له همدغه ځايه ټاکل، ځکه منابع او مأخذونه به ورته معلوم وو او په اسانۍ سره يې کولای شول چې پر خپلې څېړنې کار وکاندي .

د دې ترڅنګ ډېر محصلين چې د فراغت پر مهال مونوګراف، تېزيس او يا هم ډيزرټېشن ليکي هم د موضوعاتو له نه شتون سره مخامخ وو چې له ښه مرغه د دوی دا ستونزه هم تر ډېره حل شوه او موږ ورته په سلګونو او زرګونو د داسې مقالو سرليکونه ورکړل چې هغوی ترې په بسنده توګه ګټنه وکړای شوه او لا يې هم کوي.

کابل مجلې دې او دې ته ورته اړتياوو پوره کېدلو ته په کتلو سره دغې لړۍ ته د يو علمي او څېړنيز ارزښت په نظر کتلي او هر کال د کال په پای کې په منظمه توګه د هماغه کال د موضوعاتو الفبايي فهرست د پای په ګڼه کې خپروي او ډېرې ستونزې پرې هوارېږي.

نو د مطالبو د پرله پسې فهرست خپرېدل، د مينه والو مينې، د څېړونکو د ستونزو هواري او دې ته ورته موضوعات د کابل مجلې مسؤولين او کتنپلاوي دې ته اړ ايستل چې دغه د مطالبو فهرست چې له۱۳۸۰لمريز کال راهيسې پيل شوی او تر اوسه پورې دوام لري، په يو مناسب وخت کې د کتاب په بڼه چاپ کاندي، چې له ښه مرغه دغه مناسب وخت د څوارلسمې پېړۍ پای او د

پنځلسمې پېړۍ پيل و، خو دا چې په هغه وخت کې پر نړۍ د کرونا جال خپور شو او له بلې خوا په افغانستان کې سياسي بدلون راغی، نو دغه چار زموږ ياد علمي او څېړنيز کار له څه ځنډ او خنډ سره مخامخ کړ، خو نن له ښه مرغه دغه درونذ، مغتنم او وزمين کار زموږ د ډېر درانه او محترم استاد څېړنپوه نصرالله ناصر له خوا ترسره شو، نوموړي په ډېر تکليف او شواخون سره تېر خواره واره کارونه راټول، منظم او د نوو کارونو په زياتولو سره يې په کتابي بڼه چمتو کړل چې دا دی اوس يې تاسې درانه لوستونکي د لوستلو شاهدان ياست .

زه لومړی له ټولو مننه کوم چې ما ته يې پر يو داسې مغتنم او علمي اثر د څه ليکلو وخت راکړ او په دويم گام کې د افغانستان د علومو اکاډمۍ د ژبو او ادبياتو مرکز د رئيس او د دغه لوی کور د يو کوچني استازي په توگه له خپل درانه او لوراند استاد څېړنپوه نصرالله ناصر څخه د زړه له کومې مننه کوم چې لا هم د دې هېواد او ولس د بچيانو د ښېرازۍ، سرلوړۍ او علمي ځان بسياينې غم ورسره دی او په خپلو دغه ډول مغتنمو او مدونو آثارو په کاږلو سره د دغه هېواد ځوان څېړونکي د نړۍ له علمي سيالۍ څخه شاته نه پاتې کوي .

چې د علم، هېواد، ولس او لوستي نسل غم ورسره وي، الله به يې هېڅکله ژبه گونگۍ او قلم بند نه کړي.

مينه او پېرزوينه

څېړنوال سيدنظيم سيدي

د علومو اکاډمۍ د ژبو او ادبياتو مرکز رئيس